مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نوراحمد خالدی
۲۰۲۲/۱۲/۲۵

# سوچه شریعت

## بعضی خلک سوچه شرعی نظام غواړی!

پداسي حال کی چی په اسلامي نړی کی سوچه شرعی نظام وجود نلری، او امکان یی هم په آینده کی نشته که نه نو حنفي، شافعی، ملکی، حنبلی، شیعه او سنی، اسماعیلی، قادیانی او داسی نور مذهبونه به وجود نه درلود.

حتی د حنفی مذهب د عالمانو تر منځ هم د یو واحد سوچه شرعی نظام باندی متفق قول نشته! د سعودی علمأ د مصر د الاهزر د عالمان د هندوستان دیوبندی عالمان د پاکستان د حقانیه د مدرسی عالمان و د کندهاری عالمانو تر منځ اختلافات ډیر ژور دی!

برسیره پردی زمونږ دطالبانو ترمنځ هم پر یو سوچه شرعی نظام باندی توافق نسته' ذبیح الله مجاهد، ستانکزی، حقانی د کندهاری طالبانو مدرسی سره توافق نلری!

حقیقت دادی چه په زرهاوو غلط تش په نامه حدیثونه د اسلام لوی پیغمبر ته نسبت ورکول کیږی د همدی په خاطر په اسلام کی قیاس، تفسیر، فقه، اجتهاد، مولانا، شیخ او مولوی موجود دی چی د شرایطو په نظر کی نیولو سره پر هره مشخصه موضوع باندی فیصلی وکړی.

په سیرت نعمان کی مولینا شبلی نعماني وایي چی ابوحنیفه اشد الرای عالم و او یوازی ٤٥ حدیثونو یی صحیح بلل. هغه قیاس ته زیات اهمیت ورکاوه . یو بل سنی عالم ابن مقفع ویل چي امام به حکم د قران او د مسلمانانو د مصلحت په اساس کوي، نه د احادیثو په اساس ځکه چی احادیثو کی زیاته تنازع د روایت او صحت ده.

په بیسواده او عقب مانده ټولنو کی د بی ثبوتو حدیثو ټولول، هغه هم ۳۰۰کاله ورسته د لوی پیغمبر نه، ټول سلیقوي دی او د اعتبا وړ ندي. بله دا چي که مقوله وي یا بی ثبوته حدیث چی د خدای د بندګانو ترمنځ طبیعی عدالت او هوساینی، او دزمانی د پر مختګ مخه ونیسي باطل او مردود بلل کیږی.

سوچه شرعی نظام یوازی د بعضی کم پوهه چریانو او نیمچه ملایانو په وړوکی ذهنونو کی وجود لری چی د کلی نه راغلی د نن ورځی د مغلق واقعی دنیا په موجودیت او ضرورتونو خبر ندی او خپل غیر عقلانی ساده تحت الفظی عقاید سوچه شرعیت بولی او د یو مظلوم د ملا د ټوپک په ظلم اخته ولس موجوده او آینده ژوند په خطر اچوی!

نوراحمد خالدی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ